# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۸ د غبرگولي ۲۱مه | د ۲۰۱۹ د جون ۱۱مه | دریم کال| ۳۸۵یمه گڼه


## ځېره

۴ مخ



**حبيب الله رفيع**

استاد حبيب الله رفيع دوې ادبي جايزې، دوه د سرو زرو مډالونه او يو هم د لويې جرگې مډال لري. نوموړی د دغه هرڅه راز له خپل کار سره مينه او علاقه بولي.

## پر ټاکنو ځارونکي بنسټونه: سترې محکمې ته د ولسي جرگې د ستونزې راجع کول به نوی بحران رامنځته کړي



۳

## خليلزاد په کابل کې پر څه بوخت دی؟

۲ مخ

## په افغانستان کې د بريا لپاره بايد جگړه پاکستان ته انتقال شي

۲ مخ

## د ملي يووالي په حکومت کې ۶۲ تنو د سرپرست وزيرانو په توگه کار کړی دی

۳ مخ

## په ننگرهار کې د اوبولگولو دوه کانالونه گټې اخيستنې ته وسپارل شول



د کرنې، اوبولگولو اومالدارۍ وزارت د ننگرهار ولايت په بټي کوټ ولسوالۍ کې د ننگرهار کانال د زېرمو د بيارغونې پروژې (NVDA) په اډانه کې، د اوبولگولو د دوو فرعي کانالونو د رغولو چارې بشپړې او گټې اخيستنې ته وسپارل شول. دغه کانالونه چې له عمومي کانال څخه بېلېږي، د «شلمې او يوويشتمې» وياله په نوم يادېږي.

ياد کانالونه چې په ټوليزه توگه ۱۷ کيلومتره اوږدوالی لري، په پاخه او اساسي ډول رغول شوي دي، چې د اوبو د تنظيم او وېش په برخه کې د يادو سيمو د بزگرانو ستونزې په اساسي توگه حل کوي.

د يادو کانالونو د جوړولو ټوليز لگښت ۱.۶ ميليونه افغانۍ دی، چې د اسيا پراختيايي بانک له خوا ورکړل شوی دی.

ياد کانالونه په ټوليزه توگه دوه زره هکتاره ځمکه خړوبوي او همدارنگه له دغو کانالونو څخه د يادو سيمو لس زره اوسېدونکي گټه اخلي.

## سرچينې: راتلونکې مياشت په قطر کې د جرمني په همکارۍ بين‌الافغاني مذاکرات کېږي

سرچينو ويلي چې راتلونکې مياشت په قطر کې د جرمني په همکارۍ بين‌الافغاني مذاکرات کېږي. يوې ډيپلوماټيکې سرچينې د نوم نه ښودو په شرط پژواک خبري اژانس ته ويلي، چې دا ناسته په راتلونکې جولای مياشت کې د قطر په پلازمېنه دوحه کې پلان شوې ده.

سرچينې زياته کړې، د جرمني ځانگړي استازي په دې اړه څو ځله کابل او قطر ته سفرونه کړي، د طالبانو او افغان حکومت له استازو سره يې په دې اړه سلا مشورې کړې دي، خو دغې سرچينې د کېدونکې ناستې د کره نېټې او د جرمني د همکارۍ د څرنگوالي په اړه نور معلومات نه دي ورکړي. بلخوا د سولې عالي شورا ویاند جاويد غفور هم ويلي، چې په قطر کې د جرمني په همکارۍ بين‌الافغاني ناسته کېدونکې ده، خو ده يې هم په اړه زيات جزيات نه دي ورکړي. نوموړي زياته کړې، د افغان سولې لپاره د امريکا ځانگړي استازي زلمي خليلزاد وړمه شپه له ولسمشر اشرف غني سره د ليدنې پر مهال د سولې پروسې د وروستيو هڅو په اړه خبرې کړې دي.


د هغه په خبره، په دغې ناسته کې چې د سولې عالي شورا د دارالانشا رييس هم پکې گډون درلود، د راتلونکو پلانونو په اړه سلا مشورې شوې دي. غفور زياته کړې، د افغانستان د سولې شورا هيله او غوښتنه دا ده چې څومره ژر کېدای شي د افغان دولت او طالبانو ترمنځ نېغ په نېغه بين‌الافغاني خبرې اترې پيل او افغانان يوه دوامداره اوربند ته سره ورسېږي. خو وسله والو طالبانو په قطر کې د کېدونکې ناستې په اړه تر اوسه څه نه دي ويلي.

## د سولې لپاره بين‌الافغاني خبرو ته چمتووالی اوس يوه اړتيا ده



۲ مخ


## یک کمیشنر بین‌المللی کمیسیون شکایات انتخاباتی، متهم به فساد مالی در انتخابات کشورش می‌باشد




بر اساس یافته های آژانس خبری پژواک، یک کمیشنر بین‌المللی کمیسیون شکایات انتخاباتی افغانستان، قبلاً متهم به چندین مورد فساد مالی در انتخابات کشورش (گانا) بوده است. خانم چارلوت کسون اوسی تبعهٔ کشور گانا و نیل اپرنی از کشور نیپال، در هشتم جوزای سال روان، طی فرمان شماره (۸) رئیس جمهور غنی، به حیث اعضای بین‌المللی کمیسیون شکایات انتخاباتی منصوب گردیده اند. بر اساس قانون انتخابات، این اعضای بین‌المللی کمیسیون مستقل شکایات انتخاباتی، بدون حق رأی بوده و در رسیدگی به شکایات انتخاباتی و شریک ساختن تجارب شان برای برگزاری انتخابات شفاف، عادلانه، سراسری و قابل قبول برای نامزدان و جامعه جهانی، با اعضای داخلی این کمیسیون همکاری می کنند. خانم چارلوت کسون اوسی که ۵۰ سال عمر دارد، تحصیلات‌اش را در بخش حقوق به اتمام رسانده است و از سال ۲۰۱۵ تا جون ۲۰۱۸ به حیث رئیس کمیسیون انتخابات کشور «گانا» ایفای وظیفه کرده است و در این مدت، در چندین انتخابات از جمله انتخابات پارلمانی و ریاست جمهوری کشور گانا، ریاست کمیسیون انتخابات را رهبری کرده‌است. در گزارشی که از سوی آژانس خبری (Graphic Online)، در ۲۹ جون ۲۰۱۸ منتشر و کاپی آن به دسترس پژواک قرار گرفته، خانم چارلوت در چندین قضیه متهم به فساد گردیده است.

به نقل از این گزارش، خانم چارلوت کسون اوسی رئیس کمیسیون انتخابات کشور گانا، به اتهام نقض قوانین تدارکات، عقد قراردادهای خودسرانه و اختلافات کاری با زیردستانش، از سوی رئیس جمهور این کشور برکنار گردیده است.


Shigal English Academy



Easy English learning

+93 (0) 789 98 9696

Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## درېـځ

### خلیلزاد په کابل کې پر څه بوخت دی؟

د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی په کابل کې دی او دلته یې له پخواني ولسمشر کرزي او د ملي یووالي حکومت له مشر اشرف غني سره کتلي دي. د امریکا سفارت وایي چې خلیلزاد له حکومتي چارواکو، سیاستوالو او مدني فعالینو سره ګوري. ارګ وایي چې خلیلزاد له ولسمشر سره په خبرو کې د سولې په تړاو د وروستیو پرمختګونو جزیات شریک کړي دي او د هغې بین‌الافغاني غونډې په اړه یې خبرې کړې دي، چې ټاکل شوې د جرمني له لوري په قطر کې جوړه شي. خلیلزاد به ولسمشر غني ته ډاډ ورکوي چې طالبان به قانع کوي، څو له افغان حکومت سره خبرې وکړي، خو له ولسمشر کرزي سره یې د خبرو په اړه ډېر جزیات نشته.

خلیلزاد په پاکستان کې هم له ځینو چارواکو سره لیدلي او په اروپا کې یې هم د امریکا له متحدینو سره خبرې کړې دي. ټاکل شوې چې خلیلزاد به په نږدې راتلونکي کې قطر ته ورځي او له طالبانو سره به د خبرو اووم پړاو پیلوي. په کابل کې خلیلزاد غواړي حکومت ته ډاډ ورکړي، چې دوی به داسې ګام نه اخلي چې حکومت یو مخ پکې څنګ ته شي. دغه راز حکومت ته به وایي چې دوی به له طالبانو سره موافقه نه کوي، خو که طالبانو له حکومت سره اوربند او خبرې ومنلې، نو دوی به ورسره توافق کوي. طالبان په دې برخه کې کلک دریځ لري او لا هم ټینګار کوي چې له حکومت سره د سولې په تړاو خبرې نه کوي. طالبان وایي چې د بهرنیو ځواکونو د وتلو مهالوېش او د چا پر ضد د افغان خاورې نه استعمال به له امریکایانو سره کوي او بیا به پر کورنیو چارو له افغان سیاستوالو، ګوندونو او فعالینو سره خبرې کوي، خو نه وایي چې له حکومت سره به هم خبرې وکړي. اوس که خلیلزاد حکومت ته ډاډ هم ورکړي چې طالبان به خبرو ته حاضروي، دا دې خلیلزاد پر وړاندې ستره ننګونه ده، ځکه چې طالبان لا هم پر خپل پخواني دریځ ټینګار کوي.

بل بحث چې د خلیلزاد په دې سفر کې مهم دی، هغه دا چې خلیلزاد لا هم پخواني ولسمشر او له حکومت څخه د باندې سیاستوالو ته ارزښت ورکوي. تر ولسمشر غني وړاندې خلیلزاد د حامد کرزي کور ته ورغلی او هلته یې له ځینو سیاستوالو سره کتلي هم دي. خلیلزاد ته حامد کرزی او دا نور سیاستوال ښایي ځکه مهم وي، چې دوه ځله د مسکو غونډې ته ورغلي او طالبان هم له دوی سره خبرې کوي. د سولې په چاره کې د روسیې رول او که طالبان بیا هم له حکومت سره خبرو ته نه حاضرېږي، نو له دغو سیاستوالو سره ګډ کار د امریکا لپاره مهم دی. له همدې امله امریکا دغو سیاستوالو ته ارزښت ورکوي، خبرې یې اوري او ترې غواړي چې د سولې په چاره کې ورسره ګډ کار وکړي. د همدغو دوو ماموریتونو لپاره خلیلزاد په کابل کې دی او همدا ماموریتونه به یې په قطر کې له طالبانو سره پر خبرو او د دې خبرو پر پایلو اغېز ولري.



# په افغانستان کې د بریا لپاره باید جګړه پاکستان ته انتقال شي

لیکنه: مایکل روبین / ژباړه: لطف الله لطف

په افغانستان کې د ثبات راوستل، د ترهګرو د پټنځایونو له منځه وړل او له دوی سره د پاکستان نه همکاري هغه مهال شونې ده، چې پر پاکستان فشار ډېر شي.

د افغانستان لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد تېره اونۍ د واشنګټن په کپیټل هېل کې امریکایي چارواکو ته له طالبانو سره د روانو خبرو په اړه مالومات ورکړل. د ډېری امریکایي سناتورانو په اند، د خلیلزاد توجیهات او څرګندونې خوندورې او قناعت بښونکې نه وې. د افغان سولې لپاره د خلیلزاد پلان له ډېرو نیمګړتیاوو ډک دی. خلیلزاد د ترهګرو ډلو له ملاتړ څخه د لاس اخېستلو د ژمنې په بدل کې طالبانو ته مشروعیت ورکوي، د دغه کار په بدل کې د افغانستان د منتخب حکومت مشروعیت کم رنګه کوي او د ژمنو ماتولو او د طالبانو د ناکامه کړنلارو اوږد تاریخ له پامه غورځوي.

د افغان سولې لپاره د خلیلزاد د پلان تر ټولو ستره ستونزه دا ده چې یو څرګند حقیقت یې له پامه غورځولی. په افغانستان کې تر هغه سوله نه شي راتلی، چې پاکستان له ترهګرۍ ملاتړ کوي او افغان ثبات ګواښي. د خلیلزاد د تګلارې تر ټولو بنسټیزه ستونزه دا ده چې په افغانستان کې د سولې د پروګرام د بریا لپاره د پاکستان د مهارولو پلان نه لري.

**پاکستان ولې له راډیکالېزم ملاتړ کوي؟**

پاکستان له څو لسیزو راهیسې په سیمه کې د ستونزو ستر لامل دی. سره له دې چې پاکستان د سړې جګړې پر مهال د امریکا ملګری ګڼل کېده، خو د متحده ایالتونو پر ضد د پاکستاني وګړو بې باوري او کرکه په لوړه کچه وه. پاکستاني چارواکي پوهېدل چې د ټرومن ادارې هغه وخت پاکستان ته د ملګرتیا لاس ور اوږد کړ، چې هند واشنګټن له پامه وغورځاوه. پاکستاني چارواکي دا هم وایي چې امریکا په ۱۹۶۵ او ۱۹۷۱ ز کلونو کې له پاکستان سره ناځواني کړې وه او له هند سره د جګړو پر مهال یې د اسلام اباد د نجات لپاره ګامونه پورته نه کړل. د پاکستان له لرلیده هند په دواړو جګړو کې پر پاکستان برید کړی و او د سینټو تړون له مخې امریکا اړ وه، چې له پاکستانه یې دفاع کړې وای. د امریکا له نظره، پاکستان د جګړې لومړی وار کړی و، له دې امله امریکا د هند - پاکستان ترمنځ په کړکېچ کې مداخله ونه کړه. پر دې سربېره، هغه مهال امریکایي ځواکونه په سویل ختیځه اسیا کې بوخت وو.

په ۱۹۷۱ ز کال کې له پاکستانه د ختیځې برخې جلا کېدو پاکستان ولړزاوه. پاکستان په ۱۹۴۷ ز کال کې د اسلامي هېواد په توګه د انګلیسي استعمار په مټو له هنده جلا شو، مګر د بنګال بېلتون پاکستان ته یو لړ زېنګالونه واستول او دا یې روښانه کړه، چې هغه مهال اتنیکي ملتپالنه څومره ځواکمنه وه. د بنګال له بېلتون وروسته تر ننه د پاکستان د کور دننه اتنیکي ملتپالنه د خپل جغرافیوي وجود لپاره تر ټولو ځواکمن ګواښ بولي. له همدې پېښې وروسته د پاکستان پوځ او استخبارات په ځانګړې توګه دې پایلې ته ورسېدل، چې د پاکستان امنیت په سیمه او کور دننه د راډیکاله اسلامپالنې په خپراوي پورې تړلی دی. په لنډه توګه باید ووېل شي چې پاکستان له همغې ورځې راهیسې هڅه کوي چې د اسلامپالنې د خپراوي پر مټ، د اتنیکي تمایلاتو پر بنسټ رامنځته کېدونکي غورځنګونه کم رنګه او وځپي.

دغه کار پر افغانستان هم اغېز وکړ، ځکه پاکستاني چارواکو باور درلود چې پیاوړی او باثباته افغانستان کولای شي، چې په پاکستان کې پښتون اقلیت له افغانستان سره د پیوستون لپاره وهڅوي. د شوروي له یرغل وروسته پاکستان د ملتپاله افغان ډلو پر ځای اووه مذهبي بنسټپالو ته امریکایي مرستې ور شېوه کړې. امریکا بله لار نه درلوده، ځکه افغان جنګیالیو ته د مرستو لېږد یوازې د پاکستان له لارې ممکن و، ځکه هغه مهال ایران د مذهبي اوښتون څپو اخیستی و او د منځنۍ اسیا هېوادونه د شوروي تر اغېز لاندې وو.

پاکستان لومړی د ګلبدین حکمتیار ملا وتړله، نوموړی اسلامپال پښتون او رواني ناروغ دی. سره له دې چې د بوش ادارې حامد کرزي واک ته په دې هیله ورساوه، چې د افغانستان ګڼې پرګنې او اتنیکي ګروپونه به سره یو ځای کړي، خو پاکستان له پیل راهیسې په افغانستان کې د امنیت او ثبات د ګواښلو په موخه له طالبانو ملاتړ پیل کړی و. د پاکستاني چارواکو او ډیپلوماټانو د څرګندونو برعکس، د پاکستان استخباراتي اداره د افغانستان او امریکا پر ضد له طالبانو او نورو اسلامپاله ډلو ملاتړ ته ادامه ورکړه.

**له پاکستان سره باید څه وشي؟**

نه ډونالډ ټرمپ او نه امریکایان غواړي، چې ځواکونه یې په افغانستان کې تر اخره پاتې شي؛ ځکه پردې چاره هر کال دېرش میلیارده ډالره لګښت راځي، خو دا د دې مانا نه لري چې له طالبانو سره خبرې اترې یو بد کار او همدې ډلې ته تسلیمېدل ښه کار دی. امریکا په افغانستان کې د دې لپاره حضور لري، چې له همدې ځایه القاعده او نورې وسلوالې ډلې پر امریکا برید ونه کړي. له دې امله داسې ډلې ته د افغانستان ورسپارل، چې له القاعدې سره همکاري لري، پر ټولو هغو قربانیو اوبه اړول دي، چې په تېرو څو کلونو کې شوې ده. د افغانستان د سولې پروسې لپاره له ایرلنډ ریپلک پوځي ډلې سره د خبرو اترو لړۍ یو مناسب قیاس نه دی، ځکه شمالي ایرلنډ د پاکستان په څېر ګاونډی نه لري.

که امریکا په رښتیا غواړي چې د افغان سولې پروسه په ښه توګه بشپړه شي، نو باید پر پاکستان پوره فشار راوړل شي او له هغو ټولو لارو چارو کار واخلي، چې پاکستان د طالبانو له ملاتړ څخه لاس واخلي او په دې اړه تضمین هم ورکړي.

امریکا پر پاکستان د فشار لپاره ډېرې لارې لري، خو تر اوسه یې ترې په بشپړه توګه ګټه نه ده پورته کړې، چې پاکستان د طالبانو له ملاتړ څخه را وګرځوي.

لومړی؛ له ترهګرو ډلو سره د اړیکو له کبله باید پاکستان د (FATF) تور لېست ته ور زیات شي. پاکستان د افغانستان په مسئله کې د ښه نیت په بنسټ اقدام نه کوي، ځکه باید ورسره جدي حساب وشي.

دویم؛ د بوش ادارې په ۲۰۰۴ ز کال کې پاکستان د ناټو له چوکاټه بهر د امریکا د ائتلافي ملګري په توګه ونوماوه. د بوش دغه ګام پاکستان د دې جوګه کړ، چې له امریکا دفاعي وسایل را ونیسي. پر دې سربېره یې د پاکستان د ډاډ کچه هم لوړه کړه. له پورته موقفه د پاکستان غورځول کولای شي په سیمه ییزه کچه د پاکستان پر خپل ځان باور را کم کړي.

درېیم؛ د امریکا په مرسته پاکستان تر اوسه هم د نړیوال وجهي صندوق او نړیوال بانک څخه مالي مرسته او پورونه تر لاسه کوي، چې د کورني او بهرني اقتصاد ستونزې پرې هوارې کړي. پاکستان تازه د پیسو له نړیوال وجهي صندوق څخه څه باندې شپږ میلیارده ډالره پور تر لاسه کړ. په داسې حال کې چې پاکستان یوه اندازه بهرنۍ مرستې د ترهګرو په ملاتړ مصرفوي، په راتلونکي کې باید امریکا دې دا ډول ټولو مرستو د دوام مخالفت وکړي یا لږ تر لږه باید د طالبانو له ملاتړه په لاس اخیستلو پورې منحصرې شي.

دا ښایي مناسبه نه وي چې د پاکستان ټول سیستم د دا ډول اقداماتو هدف وګرځول شي. په حقیقت کې یو څو ځانګړې پوځي او استخباراتي کړۍ له طالبانو او نورو ترهګرو ډلو ملاتړ کوي، چې امریکا ته مالوم هم دي. دا مشخص کسان او چارواکي باید د ایران د قدس ځواکمشر قاسم سلیماني په څېر په نښه کړل شي.

د ټرمپ اداره کولای شي چې په شخصي توګه پاکستان له ترهګرۍ په ملاتړ، په تور لېست کې شامل کړي؛ ځکه پاکستان د دې مستحق دی. په عامه توګه د ترهګرۍ په ملاتړ د حامي په توګه اعلان به ټول پاکستان ولړزوي. په پای کې د ترهګرۍ پر ضد جګړه کې امریکایي ځواکونو تر اوسه پورې په پاکستان کې د طالبانو اډې نه دي په نښه کړې. په داسې حال کې چې امریکا د اسامه بن لادن پر ضد د عملیاتو پر مهال د پاکستان په حریم تېری وکړ، خو تر اوسه یې د افغانستان جګړه پاکستان ته نه ده انتقال کړې. ښایي اوس یې وخت رارسېدلی وي، چې امریکا پر دې غور وکړي، سپینه ماڼۍ باید پاکستان ته څرګنده کړي، چې طالبانو ته د پټنځایونو برابرول څومره زیان لري. امریکا باید پاکستان ته وښیي، چې په سویلي اسیا او افغانستان کې د ترهګرۍ ضد جګړې په ډګر کې په پاکستان کې طالب اډې له هدف ګرځولو څخه معافیت نه لري.

ښایي پاکستان یو اټومي هېواد وي، مګر هندوستان د همدې ډول ګام اخیستو په مټ پاکستان ته ثابته کړه، چې له ترهګرۍ څخه د ملاتړ عواقب څه کېدای شي؟

دا هم یو حقیقت دی، چې هر څه د زور له لارې نه تر لاسه کېږي. د افغانستان ثبات تر ډېره په اقتصادي پرمختګ پورې هم تړلی دی، خو له هند سره اقتصادي اړیکې د پاکستان زیان اړوونکي رول د افغانستان هڅې بې اغېزې کړې او د دې لامل شوې، چې کابل له تهران سره نږدې شي. د اقتصادي همکاریو په برخه کې تر ټولو غوره لار ښایي دا وي، چې هند ته د سوداګریز لاسرسي په بدل کې باید منځنۍ اسیا ته د پاکستان لاسرسی د یوه هوکړه لیک له لارې تضمین شي. سویلي اسیا د اقتصادي پیوستون په برخه کې تر ټولو وروسته پاتې سیمه ده، د سولې لپاره د دې سیمې اوسنی وضعیت باید تغیر وکړي.

په افغانستان کې تر ډېره وخته پاتې کېدل په نظامي او اقتصادي توګه سمه پرېکړه نه ده. ډیپلوماسي کولای شي رول ولوبوي، ډیپلوماټیک ګامونه باید تګلاره جوړوونکي د حقیقت په اړه ړانده نه کړي. پاکستان د امریکا ائتلافي ملګری نه دی او باید د ملګري په سترګه ورته ونه کتل شي. که پاکستان د افغانستان په اړه ناسمه پالیسي نه درلودی، اوس به افغانستان یو باثباته هېواد و. د ثبات او افغانستان ته د ترهګرو ډلو د را ګرځېدو د مخنیوي لپاره باید له پاکستان څخه د تروریستي ډلو د نه ملاتړ هوکړه لیک واخیستل شي. له دوو لسیزو وروسته د دې مانا دا ده چې له پاکستان څخه د دوستانه غوښتنې پر ځای باید دغه هېواد تر کلک فشار لاندې ونیول شي. دا اقدام خطر هم لري. ښایي متحده ایالتونه اندېښمن وي چې دا ګام به یې پاکستان د چین لور ته نږدې کړي، مګر حقیقت دا دی چې پاکستان پرته له دې هم چین ته خورا نږدې شوی دی. له دې امله، متحده ایالتونه باید د فشار پر لارو چارو غور وکړي. د فشار لارې چارې کولای شي پاکستان سمې لارې ته سیخ کړي. د فشار پر لارو چارو له غور پرته، د خلیلزاد پلان یوازې د تسلیمېدو او امریکایي خاورې ته د نورو ترهګرو خطراتو د زیاتېدو مانا لري.

# د جرمني د بهرنیو چارو وزیر له ایران سره د اټومي هوکړې پر وروستیو کړکېچونو خبرې کړې دي

د نړۍ له سترو قدرتونو سره د ایران د ۲۰۱۵ ز کال اټومي تړون د خوندي کولو لپاره، د هڅو په ترڅ کې د جرمني د بهرنیو چارو وزیر په تهران کې له ایراني لوړپوړو چارواکو سره خبرې کړې دي.

د جرمني د بهرنیو چارو وزیر هایکوماس چې ورمه ورځ تهران ته تللی، له خپل ایراني سیال محمد جواد ظریف او د ایران له ولسمشر حسن روحاني سره کتلي دي.

ایران ته تر سفر مخکې ماس هیله څرګنده کړې وه، چې له ایراني چارواکو سره به یې خبرې له دې سره مرسته وکړي، څو دواړه لوري له کومو ګټورو یا رغوونکو لارو کولای شي چې دغه اټومي تړون خوندي کړي.

ظریف ویلي، دی غواړي پوه شي چې ښکېلو اړخونو د دغه تړون د ژغورلو لپاره مشخص څه کړي او که نه؟

وروسته له هغې چې متحده ایالتونو د تېر کال په مې میاشت کې له دغه اټومي تړونه ووتل، د جرمني په ګډون د دغه تړون نورې خواوې بریټانیا او فرانسه هڅه کوي چې دغه تړون وژغوري.

واشنګټن له هغې راهیسې پر ایران بېرته له سره بندیزونه لګولي، چې د ایران اقتصاد یې سخت ځپلی دی.

د ایران د بهرنیو چارو د وزارت ویاند عباس موسوي د دغه اټومي تړون پر اروپايي لاسلیک کوونکو نیوکه کړې، چې تر اوسه یې نه دي لیدلي چې دوی دې د ایران د ګټو د یقیني کولو په برخه کې عملي او د پام وړ ګامونه اخیستي وي.

موسوي زیاته کړې چې اروپایي هېوادونه په هغه دریځ کې هم نه دي، چې د اټومي تړون علاوه د ایران نور مسایل تر پوښتنې لاندې راولي.

دا په داسې حال کې ده چې اروپایي هېوادونه له اټومي تړون پرته، د واشنګټن له نورو هغو اندېښنو سره ځان شریک بولي، چې د دغه هېواد د بالیسټیک یا لرې واټن ویشتونکو توغندیو د پراختیا او په سیمه کې یې د فعالیتونو په اړه لري.

په ورته وخت کې تهران اعلان کړی چې د دغه تړون په چوکاټ کې خپلې ځینې کړې ژمنې ځنډوي او ګواښ یې کړی چې که اروپایي هېوادونه د ایران ګټې د امریکا د بندیزونو پر وړاندې خوندي نه کړي، د یورانیمو د غني کولو پروسه به بېرته ګړندۍ کړي. دا په داسې حال کې ده چې د تهران، واشنګټن او په خلیج کې یې د ځینو متحدانو ترمنځ، په دې وروستیو اونیو کې کړکېچ زیات شوی دی.

متحده ایالتونو په منځني ختیځ کې پوځي ورتیاوې زیاتې کړې او ویلي یې دي چې دغه اقدامات یې د ایران د بالقوه ګواښونو پر وړاندې کړي دي، خو تهران د واشنګټن دغه ادعاوې رد کړې دي.

# د ملي يووالي په حکومت کې ٦٢ تنو د سرپرست وزيرانو په توگه کار کړی دی

پژواک خبري اژانس

د ملي يووالي حکومت له پيله تر اوسه ٦٢ کسان د سرپرست وزيرانو په توگه په ۲۵ وزارتونو کې له څو ورځو تر دوه نيمو کلونو کار کړی دی.

د پژواک خبري اژانس د معلوماتو له مخې، له يادو ٦٢ کسانو ۴۴ له شاوخوا يوې تر ۲۹ مياشتو د قانون خلاف سرپرستان پاتې شوي دي؛ ځکه له دوو مياشتو ډېره يې د سرپرست په توگه دنده کړې ده.

دا په داسې حال کې ده چې د سرپرستۍ د قانون له مخې هېڅوک نه شي، چې کولای په دولتي ادارو کې له دوو مياشتو ډېر د سرپرست په توگه کار وکړي.

دغه راز د افغانستان د اساسي قانون د ٦۴مې مادې د يوولسمې فقرې پر اساس، د وزيرانو، لوی څارنوال، د مرکزي بانک د رييس، د ملي امنيت د رييس او افغان سرې مياشتې د رييس ټاکل د ولسي جرگې په تاييد د ولسمشر صلاحيت دی.

خو د پژواک معلومات ښيي چې د ۱۳۹۳ لمريز کال د تلې په اوومه، د ملي يووالي حکومت له جوړېدو وروسته، د دغه راپور تر جوړېدو (د روان کال د غبرگولي تر پنځمې) د دې مادې تطبيق ته پاملرنه نه ده شوې او په بېلابېلو وزارتونو کې پر ځينو رياستونو سربېره، ۲۵ بېلابېل وزارتونه د سرپرستانو له خوا اداره کېږي.

په ټوله کې افغان حکومت ۲۵ وزارتونه لري، خو په دې وروستيو کې له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت د کورنيو چارو له وزارت او ترانسپورټ وزارت د عامه گټو له وزارت سره مدغم شوي دي، خو تر اوسه يې د ادغام اړوند چارې دوام لري.

د ملي يووالي د حکومت پر مهال هر يو وزارت د يوې مودې لپاره د سرپرستانو له خوا اداره شوی دی.

د ملي يووالي حکومت له جوړېدو راهيسې شاوخوا ٥٦ مياشتې تېرېږي. د پژواک د معلوماتو له مخې، په دې موده کې حکومتي چارې په منځنۍ توگه له هرو سلو ورځو يوولس ورځې د سرپرست وزيرانو له خوا پر مخ وړل شوې دي.

د وزارتونو له ډلې، تر ټولو ډېر د کانونو وزارت او تر ټولو کم د کډوالو چارو وزارت د سرپرستانو له خوا اداره شوی دی.

د معلوماتو له مخې، له ټولو هغو ٦٢ کسانو چې د ملي يووالي حکومت له پيله تر اوسه يې د سرپرست وزيرانو په توگه کار کړی، تر ټولو ډېر وخت (له شاوخوا ۱۱ څخه تر ۳۱ مياشتو) سرپرست وزيران پاتې شوي دي.

همايون قيومي له تېرو لسو مياشتو راهيسې د ماليې وزارت د سرپرست وزير او عنايت الله نظري نهه مياشتې د دفاع وزارت د سرپرست په توگه دنده ترسره کړې ده.

اتو کسانو شاوخوا اته اته مياشتې د سرپرست وزيرانو په توگه دندې ترسره کړې دي.

عبدالغفور لېوال د سرحدونو چارو وزارت د سرپرست، محمدالله بتاش د ترانسپورټ وزارت د سرپرست، محمد اصف رحيمي د کرنې وزارت د سرپرست، محمد عثمان بابري د لوړو زده کړو وزارت د سرپرست، حسن بانو غضنفر د ښځو چارو وزارت د سرپرست، واصل نور مهمند د کار او ټولنيزو چارو وزارت د سرپرست، اقاجان نعيم د عامې روغتيا د سرپرست، مزمل شينواری د سوداگرۍ وزارت د سرپرست او حکم خان حبيبي د اقتصاد وزارت د سرپرست په توگه اته اته مياشتې کار کړی دی.

څلورو کسانو شاوخوا شپږ مياشتې د سرپرست وزير په توگه کار کړی دی.

د پژواک معلومات ښيي چې هر يوه احمد شاه سادات د مخابراتو وزارت د سرپرست، محمد جواد پيکار د ښارجوړونې وزارت د سرپرست او روښان ولسمل د ښار جوړونې د سرپرست په توگه شپږ شپږ مياشتې کار کړی دی.

په همدې ترتيب اسدالله خالد د دفاع وزارت د سرپرست او محمد اصف ننگ د پوهنې وزارت د سرپرست وزيرانو په توگه پنځه پنځه مياشتې کار کړی دی.

لسو کسانو شاوخوا څلور څلور مياشتې د سرپرست وزيرانو په توگه دنده ترسره کړې ده.

محمد ابراهيم شينواری د پوهنې وزارت د سرپرست، هارون الرشيد شېرزاد د نشه يي توکو وزارت د سرپرست، عبدالحکيم منيب د ارشاد حج او اوقافو وزارت د سرپرست، غلام نبي فراهي د اطلاعاتو او کلتور وزارت د سرپرست، سيداحمد حقبين د سرحداتو وزارت د سرپرست، سليم خان کندوزي د کرنې وزارت د سرپرست، کمال سادات د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت د سرپرست، حامد جليل د ښار جوړونې وزارت د سرپرست، اجمل احمدي د سوداگرۍ او صنعت وزارت د سرپرست او فاروق وردگ د پوهنې وزارت د سرپرست په توگه شاوخوا څلور څلور مياشتې کار کړی دی.

اتو کسانو شاوخوا درې درې مياشتې سرپرستي کړې ده.

په همدې توگه مسعود اندرابي د کورنيو چارو وزارت د سرپرست، فيض الله ذکي د ترانسپورټ وزارت د سرپرست، عبداللطيف روښان د لوړو زده کړو وزارت د سرپرست، عبدالرحمن صلاحي د اوبو او انرژۍ وزارت د سرپرست، مصدق خليلي د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست، عباس بصير د عامه گټو وزارت د سرپرست، کامله صديقي د سوداگرۍ وزارت د سرپرست او برنا کريمي د مخابراتو وزارت د سرپرستۍ په توگه شاوخوا درې درې مياشتې کار کړی دی.

نهو کسانو شاوخوا دوې دوې مياشتې د سرپرست وزيرانو په توگه دندې ترسره کړې دي.

د پژواک معلومات ښيي چې فضل احمد عظيمي د کډوالو چارو وزارت د سرپرست، ضرار احمد مقبل عثماني د بهرنيو چارو وزارت د سرپرست، ايوب سالنگي د کورنيو چارو وزارت د سرپرست، حضرت عمر زاخېلوال د ماليې وزارت د سرپرست، داعي الحق عابد د ارشاد حج او اوقافو وزارت د سرپرست، ميراحمد احمد جايد سادات د کانونو وزارت د سرپرست، طارق عصمتي د کليو او پراختيا وزارت د سرپرست، غلام فاروق قاري زاده د اوبو او انرژۍ وزارت د سرپرست او سيد انور سادات د کار او ټولنيزو چارو وزارت د سرپرست په صفت دوې دوې مياشتې کار کړی دی.

اووه کسان شاوخوا يوه يوه مياشت د سرپرست په توگه پاتې شوي دي.

بريالی حسام د مخابراتو وزارت د سرپرست، شاکر کارگر د سوداگرۍ وزارت د سرپرست، غلام علي راسخ د ترانسپورټ وزارت د سرپرست، نورگل منگل د ټولگټو وزارت د سرپرست، امرالله صالح د کورنيو چارو وزارت د سرپرست، حمدالله محب د کورنيو چارو وزارت د سرپرست او زلمی يونسي د پوهنې وزارت د سرپرست په توگه شاوخوا يوه يوه مياشت کار کړی دی.

دغه راز بايد ووېل شي چې سيد فهيم هاشمي د روانې مياشتې (غبرگولي) په څلورمه د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت د سرپرست او عبدالتواب بالاکرزی د همدې مياشتې په پنځمه د لوړو زده کړو وزارت د سرپرست په توگه ټاکل شوي دي.

همدا اوس څوارلس وزارتونه د سرپرستانو له خوا اداره کېږي.

همدا اوس د بهرنيو چارو، کانونو، پوهنې، اوبو او انرژۍ، اطلاعات او فرهنگ، ماليې، ښارجوړونې وزارت، ملي دفاع، حج او اوقافو، سوداگرۍ، کورنيو چارو، کار او ټولنيزو چارو، مخابراتو او لوړو زده کړو وزارتونه د سرپرستانو له خوا اداره کېږي.

دا په داسې حال کې ده چې د ولسي جرگې تېرې دورې څو ځله له حکومته غوښتي وو، چې د سرپرستۍ فرهنگ پای ته ورسوي او دې جرگې ته نوماند وزيران معرفي کړي.

د ولسي جرگې اوسنۍ دوره د روان کال د غويي په شپږمه پرانيستل شوه او تر اوسه يې د داخلي اختلافونو له امله د اداري پلاوي ټاکنې نه دي شوې.

سرپرستۍ؛ د قانون نقضولو او نه رسېدنو لامل شوې دي

د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځي استادې شهلا فريد پژواک خبري اژانس ته ويلي، د سرپرستۍ د قانون په اساس، هېڅوک بايد له دوو مياشتو ډېر د سرپرست په توگه پاتې نه شي.

نوموړې د سرپرستانو له خوا د وزارتونو کنټرول ته په اشارې ويلي، حکومت په خپل دغه سياست کې نه يوازې قانون نقض کړی، بلکې د هېوادوالو حقونه يې هم تر پښو لاندې کړي، ځکه سرپرستانو ته د واک سپارل د غوره کارونو د ترسره کولو مخه نيسي او د سرپرستيو له امله د نه رسېدنو په پايله کې د هېوادوالو حقونه تر پښو لاندې کېږي.

هغې د دې پوښتنې په ځواب کې چې لکه څرنگه چې حکومت د قانون نافذوونکی دی، ولې په دې برخه کې د قانون خلاف عمل کوي؟ زياته کړې: «يو خو د ولسمشر او اجرايه رييس تر منځ مشارکتي حکومت د دې لامل شوی، چې زياتره وخت حکومتي ادارې د سرپرستانو له خوا اداره شي. بل لامل يې دا دی چې ولسمشر غوښتل ټول صلاحيت له ده سره وي، خپله يې ټاکي او خپله يې صلاحيت ردوي، ولسمشر غواړي د قدرت تک وي».

د هغې په خبره، د سرپرستانو له خوا د چارو پر مخ وړل د حکومت د کمزوري مديريت ښکارندويي کوي او د دې لامل شوې چې د جنايي جرمونو د زياتېدو او امنيتي وضعيت د خرابېدو تر څنگ، لړ بنسټيز کارونه وشي او اداري فساد همغه ډول دوام ولري.

دغه راز د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځي استاد ودير صافي ويلي: «دغه څېړنه ښيي چې حکومتي چارواکو قانون تر پښو لاندې کړی، ځکه د قانون له مخې يو کس بايد په يوه وزارت کې له دوو مياشتو ډېر د سرپرست په توگه پاتې نه شي».


د هغه په خبره، د سرپرستانو له خوا د چارو پرمخ وړل د ځينو ستونزو لکه د زياتو بنسټيزو پروژو نه تطبيق، اداري فساد، د ناامنۍ او بېکارۍ زياتېدو او نورو د رامنځته کېدو لامل شوي دي.

هغه دې ته په اشارې چې صلاح الدين رباني له شاوخوا ۹۰۰ ورځو راهيسې د بهرنيو چارو وزارت د سرپرست په توگه پاتې شوی، ويلي: «زموږ بهرنی سياست ضرب د صفر دی او ډېر غير مسلکي ډيپلوماټان ورته جذب شوي دي».

د ده په خبره، د کانونو، اوبو او برېښنا وزارتونه کليدي وزارتونه دي او که له لومړيو يې وړ، مسلکي او باصلاحيته کسان په سر کې ټاکل شوي وای او د کانونو د استخراج او د برېښنايي انرژۍ د توليد په برخه کې لازم اقدامات شوي وای، اوس به د افغانستان اقتصاد په ښه حالت کې و.

د پژواک د معلوماتو له مخې، د ملي يووالي حکومت په ٥٦ کاري مياشتو کې د بهرنيو چارو وزارت شاوخوا ۳۱ مياشتې، د کانونو وزارت ٢٦ مياشتې او د اوبو او برېښنا وزارت ۱۲ مياشتې د سرپرستانو له خوا اداره شوي دي.

# پر ټاکنو څارونکي بنسټونه: سترې محکمې ته د ولسي جرگې د ستونزې راجع کول به نوی بحران رامنځته کړي



پر ټاکنو د څار اداري وايي، سترې محکمې ته د ولسي جرگې د رياست پر سر د راپورته شوې ستونزې راجع کول به تازه بحران رامنځته کړي.

د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ يا فيفا وايي، چې د ولسي جرگې د رياست پر سر رامنځته شوې ستونزه بايد په خپله د ولسي جرگې د غړو له لوري حل شي او سترې محکمې ته د دې لانجې راجع کول د مقننه قوې حيثت ته زيان رسوي.

فيفا دغه راز وايي چې د ولسي جرگې د رياست څوکۍ پر سر د ناندريو دوام اندېښمن کړې او د ورته وضعيت دوام ښايي د ولسمشريزو ټاکنو د ځنډ سبب شي.

دا په داسې حال کې ده چې په ولسي جرگه کې د رياست د څوکۍ پر سر د راپورته شوو جنجالونو له دوام څخه شاوخوا يوه مياشت تېرېږي، خو لاهم دغې ستونزې ته د حل لاره نه ده موندل شوې. په دې وروستيو کې داسې راپورونه خپاره شوي، که د ولسي جرگې غړي دې ستونزې ته په راتلونکو څو ورځو کې د حل لار پيدا نه کړي، نو ولسمشر به له سترې محکمې څخه د دې مسئلې د حل په موخه مرسته وغواړي.

خو د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ يا فيفا بيا وايي، په پارلمان کې رامنځته شوی بحران بايد په خپله د ملي شورا استازي حل کړي او سترې محکمې ته د دې لانجمنې دوسيې راجع کول به د مقننه قوې حيثت ته زيان ورسوي.

د فيفا غړي حسيب معترف ويلي: «له پارلمان څخه بهر د دغې ستونزې راجع کول به د سترې محکمې حيثيت ته زيان ورسوي».

فيفا اندېښنه ښودلې چې په ولسي جرگه کې رامنځته شوی بحران له يوې خوا د ولسي جرگې حيثيت او اعتبار ته زيان رسوي او له بلې خوا د نظام يوه مهمه قوه فلج شوې ده.

دوی وايي، د ورته وضعيت دوام په خپله د بحران پراختيا او فساد ته لار هواروي او راتلونکې ولسمشريز ټاکنې هم اغېزمنولی شي.

د فيفا وياندې مروې اميني ويلي: «پارلمان د خپلمنځي بحران له کبله د حکومت پر کړنو هېڅ ډول څارنه نه لري، د دغه ډول وضعيت دوام په خپله د بحران پراختيا او فساد ته لاره هواروي او که دغه ستونزه ژر حل نه شي، راتلونکې ولسمشريزې ټاکنې هم اغېزمنولی شي».

فيفا له قانوني لارې د رامنځته شوې ستونزې هواری اساسي حللار بولي، خو وړانديز کوي چې له هر ولايت څخه دې يو استازی وټاکل شي او يوه ۳٦ کسيزه کمېټه دې جوړه او د دې کمېټې د تصميم په صورت کې دې رامنځته شوې ستونزې ته نهايي حللار پيدا کړي.

د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ يا فيفا داسې مهال په ولسي جرگه کې د رامنځته شوي بحران په اړه اندېښنه ښيي، چې په دې جرگه کې لا هم پر همدې موضوع جنجال روان دی.

## د کتــاب خبــرې

# د لوی فکر جادو

- لیکوال: دوکتور ډېویډ شوارتز
- ژباړن: میـراحمد یـاد

### دولسم څپرکی
### موخې د ودې لپاره وکاروئ




موخه چې نه وي ټاکل شوې، نه څه کار کېږي او نه مخ پر وړاندې قدم اخیستل کېږي. بې موخې ژوند بې مانا وي. مزل بې منزله وي. هېڅوک نه پوهېږي چې چېرته روان دي او ولې روان دي.
برې ته موخه داسې ده لکه ژوند ته ساه. هېڅ انسان بې موخې نه دی بریالی شوی. هېڅ انسان بې ساه ژوند نه شي کولای، نو خپله موخه دقیقه وټاکئ.
ډېویډ ماهوني د پوستې په دفتر کې کار پیل کړ او د اونۍ یې پنځه ویشت ډالره معاش ورکاوه. اوه ویشت کلنۍ کې د یوه سازمان عمومي معاون شو او په دري دېرش کلنۍ کې د ګوډ آنور کمپنۍ رئیس شو. نوموړی د موخې په اړه وایي: (دا مهمه نه ده چې موږ اوس څه یو او چېرته یو، مهمه دا ده چې چېرته ځو او څه ترلاسه کوو؟)

دا مهمه نه ده چې موږ اوس څه یو او چېرته یو، مهمه دا ده چې چېرته ځو او څه ترلاسه کوو؟
بریالي شرکتونه ځان ته تر راتلونکو لسو او پنځلسو کلونو موخې ټاکي. لوی شرکتونو او ادارې باید تل له ځانه پوښتنه وکړي چې: (په راتلونکو لسو کلونو کې باید زموږ شرکت کوم ځای کې وي؟) بیا دوی خپل هلې ځلې پر همدې معیار سنجوي.
تولیدي فابریکه نن جوړېږي، خو ظرفیت یې د لس پنځلس کاله وروسته تقاضا پر اساس ټاکل کېږي، نه د اوسنۍ تقاضا پر اساس. څېړنې د هغو توکو د تولید لپاره کېږي چې لومړی څرک به یې لږ تر لږه یوه لسیزه وروسته را ښکاره کېږي.
نوی سوداګریز شرکت خپل راتلونکی؛ بخت او تقدیر ته نه سپاري، نو ته یې ولې سپارې؟
موږ هر یو له هغو کاروبارونو ډېره زده کړه کولای شو چې راتلونکي ته ګوري. نو ښه او بلکې پکار ده چې خپل لس کلن پلان له اوسه وټاکو. که موږ یو تصور لرو او راتلونکي کې یې عملي کوو، نو له اوسه باید پوه شو چې څه باید وو.
دا نقادانه فکر دی. کاروبارونه زیاتره له دې امله ناکامېږي چې پلان کې یې راتلونکی دقیق نه وي څېړل شوی او کوم انسان چې اوږدمهالی پلان نه لري، دی هم ځانته د فعالیت ځای نه شي پیدا کولای. بې هدفه انسان وده نه شي کولای.
اوس به درته په یوه بېلګه کې دا روښانه کړم چې برې ته د رسېدو لپاره اوږدمهالې موخې ولې اړینې دي. یوه اونۍ مخکې د (راف) په نوم یو ځوان راغی، کومه کاري ستونزه یې درلوده. هلک دروند او تکړه ښکارېده، درس یې څلور کاله مخکې خلاص کړی، خو واده یې لا نه و کړی.
څو شېبې یې پر زده کړو، کار، وړتیا او روزنیز چاپېریال وغږېد. بیا مې ورته وویل: (داسې ښکاري چې ته ماسره د کار بدلولو په اړه مشوره کوې، ښه ستا څه ډول کار خوښېږي؟)
هغه وویل: (که رښتیا راباندې وایې په همدې خاطر درته راغلی یم، خو اوس نه پوهېږم چې کوم کار به خوند راکړي.)
د دې ځوان ستونزه ډېره عامه وه، خو یو څو دفترونو او مدیرانو سره په خبرو دا ځوان خپله لاره نه شي موندلای. ازموینه او تېروتنه د ژوند مسیر ټاکلو تر ټولو کمزورې طریقه ده. په سلګونو کاري فرصتونو کې، سم مسیر ته د برابرېدو چانس ایله ۲٪ سلنه دی. دی باید پوه شي چې نوي ځای ته د ورتګ لپاره لومړی باید دا نوی ځای وپېژني، چې دا ځای چېرې دی او څنګه دی؟
نو ما ورته وویل: (ته د خپل ژوند پلان ته له دې زاویې وګوره. ته په خپل ذهن کې د خپلو راتلونکو لسو کلونو انځور راته تشریح کړه؟
هلک پر دې پوښتنې فکر کاوه، بلاخره یې وویل: (زه هم د نورو خلکو په څېر غواړم چې ښه عاید ولرم، ښه کور ولرم ... خو داسې ډېر فکر مې پرې نه دی کړی.)
ما ورته وویل چې دا طبیعي خبره ده. د ژوند په اړه ستا دا خبره داسې ده لکه څوک چې ټکټ پلورنځي ته لاړ شي او ورته ووایي چې ټکټ راکړه، خو هغوی درته ټکټ تر هغې نه شي درکولای چې تا ورته خپل د تللو ځای او هدف نه وي ښودلای... ورته ومې ویل: (نو ماته هم تر څو چې ستا ځای او هدف نه وي معلوم شوی، په دندې ټاکلوکې درسره مرسته نه شم کولای او دا ځای او هدف به راته خپله ته ښیې.)
هلک فکر کې ډوب شو، موږ له دوو ساعتونو راهیسې خبرې پیل کړې وې اخر مو خبرې په ژوند کې هدف ټاکلو ته راغلې او په هېڅ ډول دندو او امتیازاتو یې ونه غږېدو. خو زه فکر کوم دې هلک به د ژوند په اړه تر ټولو ښه سبق زده کړی وي او هغه دا چې: له حرکت مخکې منزل معلوم کړه. تاسې هم د بریالیو خلکو په څېر له وړاندې ټاکل شوي پلانونه ولرئ. هر انسان یوه کاروباري واحد ته ورته دی. وړتیاوې، مهارتونه او قوتونه یې تولیدات دي. هر انسان غواړي چې خپلو تولیداتو ته وده ورکړي او په لوړه بیه یې خرڅ کړي. دا کار له وړاندې جوړ شوي پلان کولای شي.
دوه کاره به درسره مرسته وکړي:
لومړی: خپل راتلونکی په دریو برخو ووېشئ: کار، کور او ټولنه.
که ژوند مو داسې ووېشه، نو له شخړو او ګنګستیاوو به خلاص یئ او پراخه تصویر به لیدلای شئ.
دویم: درې پوښتنې باید په ډېر دقیق ډول ځواب کړئ:
- ژوند کې به څه کوم؟
- څوک به یم؟
- رانلونکی به مې څه وي؟

**دوام لري...**

# حبیب الله رفیع

امان الله «حنیفي»



حبیب الله رفیع د افغانستان یو پېژندل شوی سیاسي، ادبي فرهنګي او ټولنیز شخصیت دی. نوموړی د وردګو ولایت د سیداباد ولسوالۍ په آبدرې نومي کلي کې زیږېدلی دی. ښاغلی رفیع د افغانستان په مطبوعاتو کې یو فعال ویناوال، سیاسي شنونکی، څېړونکی او مالومات وړاندې کوونکی کس پاتې شوی دی. نوموړی د افغانستان په چاپي رسنیو او خپرونو کې تر هر نورو مطبوعاتو ډېر ګړندی لیکوال دی او هر ډول تاریخي، ژبنۍ، ګروهي او فلسفي لیکنې یې کړې دي. که د هر اخبار او مجلې پاڼې واړوی، نو د ښاغلي حبیب الله رفیع لیکنې به د سرلیک په توګه پکې پیدا کړی او همدارنګه که د راډیو غوږ تاو کړی، نو په یوه نه یوه څپه کې به یې غږ واوری. ښاغلي رفیع تر ډېره په اوسني پېر کې په ورځنیو سیاسي، ادبي او فرهنګي مسایلو خپلې څېړنیزې ویناوې کړې دي او په تدریسي بحثونو کې یې په علمي کره کتنو رڼا اچولې ده. ښاغلی حبیب الله رفیع په افغانستان کې د اوسمهال د پښتو ادب د ډګر د نویو ځوانانو د روزنې په برخه کې ډېر بوخت دی. نوموړی له هغو ځوانانو سره چې د مطبوعاتو نړۍ ته نوي راټوکېدلي دي، په ادبي سمونو کې ډېر زیار باسي او د هغوی په فرهنګي روزنه کې بې ونډه اخیستې ده.
ښاغلي رفیع په خصوصي دیني مدرسو کې زده کړې کړې دي او سربېره پر دې یې د افغانستان له تعلیمي مرکزونو د لېسانس او تر هغې ورپورې هاخوا، له علمي کورسونو څخه سندونه ترلاسه کړي دي. همدارنګه د هېواد دننه او له بهرنیو افغاني ټولنو څخه یې ستاینیز بري لیکونه او ستاینلیکونه هم تر لاسه کړي دي .
نوموړي خپلې لومړنۍ زده کړې په دیني مدرسو کې پیل کړې دي. هغه له شعر او ادب سره له ماشومتوبه زیاته مینه درلوده. استاد په پنځه کلنۍ کې له خپلې اروابښادې خور څخه پښتو شعرونه او ادبي متنونه اورېدل او بیا به یې په خپله لوستل. په یوولس کلنۍ کې یې په خپله د پښتو شعرونو په لیکلو تمرین پیل کړ.
استاد وایي: «له لیکلو سره مې له ماشومتوبه مینه وه. په ځانګړې توګه له ولسي سندرو او کتابي شعرونو سره. ولسي سندرې ځکه ماته مهمې وې، چې زه په کلي کې زیږېدلی او لوی شوی وم، زموږ په کلي کې د ولسي سندرو بازار ډېر تود و. ماشومانو به په لوبو کې سندرې ویلې، میندو به د ماشومانو د ویده کولو لپاره د اللو سندرې ویلې. لویانو سندرې درلودې. په اتڼ کې به سندرې ویل کېدې، نو پر دې بنسټ زه له ډېره ماشومتوبه له شعر او شاعرۍ سره اشنا شوی یم او بیا مې چې وروسته درسونه وویل، له کتابي شعرونو سره اشنا شوم او ومې لیکل. دوې خویندې مې وې، هغوی به راته زاړه کتابونه لوستل، د رحمان بابا شعرونه یې راته لوستل، د هغه دیوان به یې راته لوسته، د یوسف او زلیخا کیسه او داسې نور، نو په دې اساس زه له شعر سره لومړی اشنا شوی یم او بیا وروسته مې په دوولس او دیارلس کلنۍ کې عربي کتابونه ولوستل او د هغو ژباړه به مې کوله، هم په شعر او هم په نثر. له ۱۳۴۰ لمریز کال وروسته چې کله د پوهنې په وزارت کې مامور وټاکل شوم، څېړنې مې هم پیل کړې، چې د څېړنو زیاته برخه مې د فولکلور په تړاو ده او له هغې وروسته بیا تاریخ ټولنې ته لاړم او په دې برخه کې مې څېړنې پیل کړې. په ۱۳۴۲ لمریز کال کې مې یو راډیویي پروګرام درلود، چې په دغه پروګرام کې به مې له کلیوالو سره خواله کول او د هغوی له خولې مې کلیوالي سندرې او نور مطالب اورېدل، ما د ښه کلیوالي ژوند لپاره هغه څه چې لازم وو، د مطالبو په شکل په راډیو کې وړاندې کول».
استاد په ۱۳۴۰ لمریز کال کې د خپلې علاقې له امله، د پوهنې وزارت د دارتالیف ریاست د عرفان او پوهنې مجلې د مهتمم په توګه دنده پیل کړه. په ۱۳۴۳ لمریز کال کې د تاریخ د ټولنې غړی او د اریانا مجلې مهتمم شو. په ۱۳۴۸ لمریز کال کې د افغان ملت مجلې مسوول مدیر وټاکل شو. تر یوې دورې سیاسي بند وروسته بیرته د تاریخ د ټولنې غړی شو. په ۱۳۵۱ لمریز کال کې د فولکلور او ادب ریاست د فولکلور مجلې غړی و. په ۱۳۵۷ کال کې د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز غړی و. بیا د کمونیستي دولت په راتلو له کاره ګوښه شو. په ۱۳۵۸ لمریز کال کې د کب په میاشت کې د څرخي پله په زندان کې واچول شو. په ۱۳۵۹ لمریز کال کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ غړی شو. د همدغه کال په مني کې د حج په سپېڅلي سفر سعودي عربستان ته و لاړ. په ۱۳۶۰ لمریز کال د زمري په میاشت کې د غرونو له لارې پېښور ته مهاجر شو. په پېښور کې یې قلمي جهاد ته دوام ورکړ. د امان کتاب د خپرولو موسسه یې جوړه کړه. د پېښور له پښتو اکاډمۍ او آریاسټډي سنټر سره همکار و. په ۱۳۶۵ لمریز کال کې د څه وخت لپاره په مصر کې د قاهرې د پښتو څانګې وياند و. په همدې کال په پېښور کې د جهادي څېړنو د مرکز او د (قلم) د لیکوالې ټولنې غړی شو. په ۱۳۸۲ لمریز کال د افغانستان د علومو اکاډمۍ د دایرة المعارف د مرکز رییس وټاکل شو، چې اوس هم د علومو په اکاډمۍ کې د بست فرهنګي کمېټې د رییس په توګه دنده پر مخ وړي.
استاد د خپلې بریا راز خپله مینه او علاقه ښیي. استاد وایي: «ما مې له خپل کار سره له ماشومتوبه علاقه درلوده، د مینې تر حده د عشق تر حده پورې. زه په خپل کار مین یم او زما کار د رسمي وخت تابع نه دی، چې زه لاړ شم دفتر ته او کار وکړم؛ زما کار زما له ژوند سره مل دی. ډېر وخت داسې شوي، چې د شپې دوې بجې له خوبه راپورته شوی یم او یوه موضوع مې ذهن ته راغلې او هغه مې په ډېره خوړه ژبه لیکلې، ځکه چې په دې وخت کې مې ورته ډېره توجه وي. که خلاصه یې کړم، زما د بریالیتوب راز زما په مینه، علاقه او عشق کې دی».
استاد حبیب الله رفیع د ۱۴۲ په شاوخوا کې چاپ شوي او همدا راز په لسګونو ناچاپ اثار چې چاپ ته چمتو دي، لري.
استاد د یوې پوښتنې په ځواب کې چې استاد له اوسنۍ پرمختللې او که ووایو برېښنایي نړۍ سره څومره بلد یاست؟ وایي: «ځینې کسان راته وایي، ایمېل دې راکړه، زه ورته وایم، چې زه د شلمې پېړۍ سړی یم، یوازې یو ټلیفون لرم او بس. ما سره د شلمې پېړۍ په اړیکي وسایلو وغږېږه. نور نو د مجازي نړۍ په پرمختګ کې له بده مرغه زما سترګې هم راسره همکاري نه کوي او زما عمر هم».
نوموړي د ۸۰۰ په شاوخوا کې مقالې لیکلې دي. استاد حبیب الله رفیع د سلو په شاوخوا کې په علمي، ملي او نړیوالو سیمینارونو کې برخه اخیستې ده. نوموړي په دغو سیمینارونو کې رسالې وړاندې کړې او دفاع یې ترې کړې ده. ښاغلي رفیع ته دوې ادبي جایزې، دوه د سرو زرو مډالونه او یو د لویې جرګې مډال هم ورکړل شوی دی. ښاغلی رفیع د خپل ماشومتوب په اړه وایي: «زه ډېر وخت په ماشومتوب کې په فکر کولو کې بوخت وم. لوبې مې خوښېدې؛ خو د نورو. زه به ورته ناست وم او ما به د هغوی په لوبه فکر کاوه، چې کله کله به مې په هغو لوبو لیکنې کولې. هو داسې هم ده ما خپله ماشومتوب کې لوبه کوله، خو هغه لوبه له اوسنیو لوبو سره بېخي توپیر لري. موږ به خپل توپونه د غواګانو له پت نه جوړول، یو شی مو ورته جوړاوه، هغه دا چې د غواګانو د وېښتو لاندې یو ډول نور وېښته دي، هغه به مو را ایستل او هغه به مو په تودو اوبو کې اچول او ډېر به مو تاو کړل او بالاخره به یو کلک توپ ورڅخه جوړ شو او بیا به مو په دې توپ لوبه کوله. نورې وړې وړې لوبې مې هم کړې دي، خو ډېر وخت مې د لوبې په ننداره تېر شوی او د لوبو په اړه مې فکر کړی دی».
استاد د خپلو سفرونو په لړ کې پاکستان، ایران، سعودي عربستان، امریکا، کاناډا، عربي اماراتو، بلجیم او انګلستان ته تللی دی. استاد دوه مشران وروڼه لري، چې مشر هغه یې الحاج احمدالله په کاناډا کې د ټورنټو په ښار کې د مسلمانانو د ټولنې مشر او د همدغه ښار د یو مسجدشریف د امام په حیث وظیفه ترسره کوي. دویم ورور یې الحاج دادالله دی چې په خپل پلرني هستوګنځي کې ژوند کوي او د سیمې قومي مشر دی. استاد د وروڼو ترڅنګ دوې خویندې هم لري.
د استاد په اړه ویل کېږي، چې نوموړی دوې مېرمنې لري، خو استاد دا خبره ردوي او وایي: «ما دوه ودونه نه دي کړي، یوه مېرمن مې ده، هغه دري ژبې ده او هغه هم یو تصادف و، چې ما باید واده ورسره کړی وای. په افغانستان کې دا خبرې تر ځلوېښتو کلونو وړاندې نه وې. په افغانستان کې ملي وحدت و، دا د ژبو توپیر وروسته را پیدا شوی دی. نو په دې اساس د پښتنو له دري ژبو سره او دري ژبو له پښتنو سره ودونه کول. دا یو ښه راز دی او زه د افغانستان د ملي وحدت په بقا کې همدا راز وینم، چې پښتانه او تاجک سره یو پاتې شي. ډېرو خلکو هڅه وکړه، چې تاجک او پښتانه سره وجنګوي؛ خو دوی ونه جنګېدل، ځکه چې د دوی کورنۍ سره شریکې وې».
استاد حبیب الله رفیع دوه زامن او څلور لوڼې لري. د استاد اولادونه که څه هم له لوړو زده کړو څخه برخمن دي، خو د استاد په شان د ادب مینه وال نه دي. د استاد دواړه زامن د الکترونیك انجنیرینګ په څانګه کې زده کړې کوي او هر یو یې غښتلی اوډونکی کمپوزر هم دی، چې د خپل پلار ډېر اثار د دوی په کمپیوټري ټایپ چاپ ته تیار شوي او چاپ شوي دي. ښاغلی استاد حبیب الله رفیع ۷۴ کلونه عمر لري او اوسمهال د علومو اکاډمۍ د بست فرهنګي کمېټې د رییس په توګه خپله دنده پر مخ وړي.

همیانی

# ولې د ماشومانو پر ځان باور زيات کړو؟

**لیکنه: تورپیکی غرنی**

د ماشومانو پر ځان باور، د ماشوم د خوشالۍ او نېکمرغۍ لامل کېږي. ماشوم مو بايد په ځان کې د هر کار د کولو وړتيا وويني، په دې برخه کې مور او پلار ډېر اړين رول لري، اړ دي چې د خپل ماشوم پر وړاندې خپله دنده او مکلفيتونه په ښه توګه ترسره کړي او لاندې برخو ته پام وکړي.

**۱- له ماشوم سره مينه کول**

مينه په ماشوم کې يو ځانګړی حس راپاروي، مينه ماشوم ډاډه کوي او د دې زمينه ورته برابروي، چې له وېرې پرته هر کار په ښه توګه ترسره کړي. هغه ماشوم چې د مور او پلار د مينې تر سيوري لاندې لوی شوی وي، پر ځان باور يې څو چنده لوړېږي، پر خپلو وړتياوو باور پيدا کوي او د همدې وړتياوو له مخې کولی شي چې د خپلو برياوو لوری وټاکي. که ماشوم د مور او پلار له مينې بې برخې شي، نو يو ډول عصبي ناروغي ورته پيدا کېږي او ځان يوازې احساسوي چې دا کار يې پر ځان باور ډېر راټيټوي او بې جرئته لويېږي.

**۲- ماشوم ته مو د وړتيا له کچې سره برابر مسووليت ور وسپارئ**

ماشوم تل د خپلو مسووليتونو پر مټ بريالی کېږي او خوند ورکوي. همدا خوند او خوشالي يې پر ځان باور زياتوي. ماشوم بايد مسووليت منونکی وي، هغوی ته کله کله بايد کوچني مسووليتونه ور وسپارل شي او دا احساس ورکړل شي چې ارزښت لري. ماشوم ته مو د دسترخوان پاکولو دنده ور وسپارئ يا د ډوډۍ لوښي پرې پخلنځي ته يوسئ، د دې پر ځای چې ورته ووايی مات يې نه کړې، پر دې يې ډاډه کړئ چې ته يې کولی شې.

**۳- د ماشوم له رټلو او وهلو ډډه وکړئ**

رټل او وهل ماشوم بې زړه کوي او پر ځان د باور کچه يې راټيټوي. که غواړئ ماشوم ته مو د کومې تېروتنې له امله سزا ورکړی، نو هغوی د يو څه مودې لپاره د خوښې له کاره منع کړئ، لکه اجازه مه ورکوئ چې د څه وخت لپاره ټلويزيون وګوري او يا هم د خپلې خوښې لوبه وکړي.

ماشوم مو د پيغور په بڼه له نورو ماشومانو سره مه پرتله کوئ او دا احساس مه ورکوئ چې نور له دوی بهتره دي. دا کار د ماشوم پر ځان باور ډېر کموي او هغوی تحقيروي.

**۴- ماشوم مو په مثبتو جملو سره وهڅوئ**

د خپل ماشوم د کار ستاينه وکړئ، کله چې هغه کوم کار کوي، نو مثبتې جملې ورته وکاروئ، د نه يې شې کولای پر ځای ورته ووايئ، هو ته کولی شې. ماشوم هر څه له مور او پلاره زده کوي، نو هڅه وکړئ چې د منفي حرکاتو او خبرو پر ځای، مثبت فکر ور ولېږدوئ.

**۵- له ماشوم سره مو لوبې وکړئ**

ماشوم ته وخت ورکړئ او له هغوی سره په لوبه کې برخه واخلئ. په دې کار سره هغوی ځانته د يو ستر او ارزښتمن شخص ګومان کوي، لوبه مو په ماشوم پيل کړئ او تاسې ورسره يو ځای جسمي او روحي ونډه واخلئ، که مو فکر بل ځای او جسماً په لوبه کې وی، نو ماشوم په دې کار ډېر ژر پوهېږي او له زړه خپه کېږي.

له ماشوم سره په لوبو کولو د مور او پلار فکر هم د يو څه مودې لپاره بدلېږي او د خوشالۍ احساس کوي، ځکه د ماشوم يوه ښېله نړۍ ده چې په ورتګ يې هر څوک د راحتۍ احساس کوي او هر څه هېروي.

**٦- د ماشوم پوښتنې مو بې ځوابه مه پرېږدئ**

کنجکاوه ماشوم تېز او فعاله ذهن لري، له هر څه سره د مخ کېدو پر مهال يې په ذهن کې بې شمېره پوښتنې را پيدا کېږي. مور او پلار اړ دي چې د ماشوم هرې پوښتنې ته ځواب ورکړي. که ماشوم د پوښتنو په کولو سره ورټی، نو بې زړه او کم جرئته لويېږي او دا کار يې راتلونکي ته هم ډېر تاوان رسوي. هڅه وکړئ چې له ماشوم سره په هغه ډول چلند وکړئ، کوم چې بې له کومه ډاره او شرم له تاسې هره پوښتنه په ډاډه زړه وکړی شي، چې دا کار يې پر نفس د اعتماد پر لوړوالي ډېر مثبت اغېز لري.

## خلیلزاد: د سولې لپاره بین‌الافغاني خبرو ته چمتووالی اوس يوه اړتيا ده



د افغان سولې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خليلزاد ويلي، په داسې حال کې چې د افغان سولې په اړه خبرې نوي پړاو ته داخلېږي، نو بين‌الافغاني خبرو ته چمتووالی اوس يوه اړتيا ده.

هغه کابل ته تر ستنېدو او له ولسمشر غني سره تر ليدنې وروسته پر خپل ټوېټر ليکلي، چې له افغان چارواکو سره يې د بين‌الافغاني خبرو پر چمتووالي خبرې کړې دي.

نوموړي زياته کړې چې له غني سره يې د دې ترڅنګ د افغان سولې په اړه د يوې پراخې اجماع پر رامنځته کېدو هم خبرې کړې دي.

هغه ويلي: «له ولسمشر غني او ټيم سره مو يې ښه ليدنه لرله، د افغان سولې په اړه پر يوې پراخې اجماع مو خبرې وکړې، همدا راز په سيمه ييزو اړتياوو، د افغانستان او پاکستان اړيکو کې وروستي حرکتونه، پر سولې يې د اغېز او هغو فرصتونو په اړه وغږېدو، چې سوله يې د سيمې د يووالي او پرمختيا په برخه کې چمتو کولای شي».

خليلزاد په داسې مهال کې بين‌الافغاني خبرو ته پر چمتووالي ټينګار کوي، چې نوموړي د رواني جون مياشتې پر ځلورمه نېټه له جرمني چارواکو سره هم د راتلونکو بين‌الافغاني خبرو پر ځرنګوالي او چمتووالي خبرې کړې وې.

په ورته وخت کې ارګ هم ويلي، چې ولسمشر غني او خليلزاد په ياده ليدنه کې تر ډېره د افغان سولې په اړه پر بين‌الافغاني مذاکراتو خبرې کړې دي.

بلخوا په کابل کې د امريکا سفارت هم ويلي، چې خليلزاد به پر افغان چارواکو سربېره، د مدني ټولنو له استازو، سياسي مشرانو او د افغان ټولنې له بېلابېلو قشرونو سره د افغان سولې په اړه پر وروستيو پرمختګونو او راتلونکو پلانونو وغږېږي.

دا افغانستان، سيمې او اروپا ته د افغان سولې په تړاو د خليلزاد اتم سفر دی، چې ټاکل شوي نوموړی په قطر کې د طالبانو د سياسي دفتر له استازو سره هم وګوري.

په ورته وخت کې د سولې عالي شورا وياند غفور احمد جاويد هم ويلي، چې خليلزاد له افغان چارواکو سره د قطر د راتلونکې بين‌الافغاني غونډې په اړه خبرې کړې دي.

هغه ويلي: «د افغانستان د سولې عالي شورا غوښتنه دا ده، چې موږ وکولای شو د افغانستان دولت او د طالبانو تحريک ترمنځ د مخامخ خبرو اترو لړۍ پيل شي او افغانان يو دوامداره اوربند ته ورسېږي».

## وکيلان: حکومت د ولسي جرګې په روان کړکېچ کې د مداخلې حق نه لري

له نږدې يوې مياشتې وروسته لا هم د ولسي جرګې د مشر د ټاکلو پر سر راپورته شوې ناندرۍ پای ته نه دي رسېدلي، خو اوس چې د ياد کړکېچ د هواري لپاره د حکومت او سترې محکمې د مداخلې خبرې کېږي، د دغې جرګې غړي وايي چې د جرګې د داخلي اصولو له مخې حکومت د دوی په چارو کې د هېڅ ډول مداخلې حق نه لري.

په ولسي جرګه کې د غزني د خلکو استازي غلام حسين ناصري ويلي: «د ولسي جرګې د داخلي اصولو له مخې، حکومت په دې برخه کې د هېڅ ډول مداخلې حق نه لري. نه ولسمشرۍ ماڼۍ، نه ستره محکمه او نه هم د حکومت اجرايه رياست، دغه ستونزه بايد د ولسي جرګې د اصولو له مخې همدلته د دغې جرګې د وکيلانو له‌خوا هواره شي».

دا په داسې حال کې ده چې ولسي جرګه د ډېرو لانجو او ناندريو له امله دوې مياشتې په ځنډ سره د غويي مياشتې په شپږمه نېټه پرانيستل شوه، خو د دغې جرګې په پرانيستل کېدو سره د جرګې د مشر د ټاکلو پر سر د وکيلانو ترمنځ کړکېچ پيل شو او د زياترو په باور، قومي او سمتي بڼه يې خپله کړه.

په ولسي جرګه کې د دغې راپورته شوې کشالې د هواري لپاره له نږدې يوې مياشتې راهيسې هڅې رواني دي، خو لاهم دغه ستونزه نه ده هواره شوې.



دغې موضوع د ډېرو نورو بنسټونو ترڅنګ، د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ يا فيفا اندېښنې هم راپارولې او دغه بنسټ په ولسي جرګه کې روان وضعيت ناهيلی کوونکی بولي.

فيفا تېره ورځ په کابل کې په دې تړاو خبري ناسته رابللې وه او خپل وړانديزونه او غوښتنې يې له رسنيو سره شريکې کړې دي.

د دغه بنسټ وياندې مروې اميني ازادي راډيو ته ويلي: «زموږ مشخص وړانديز دا دی چې د ولسي جرګې ټول وکيلان په خپلو منځو کې انتخابات وکړي او د هر ولايت څخه يو يو تن انتخاب کړي او د کوچيانو او هندوانو له حوزو څخه هم دې يو يو استازی وټاکل شي او دغه ۳٦ کسيز ټيم دې بيا د ولسي جرګې د مشر د ټاکلو د موضوع په اړه پرېکړه وکړي».


فيفا د ولسي جرګې له وکيلانو غوښتي چې د جرګې د رياست له حيثيتي کولو، فساد او له قومي او سمتي بحثونو ډډه وکړي.

## يوناما: وسله والو مخالفينو په روژې مياشت کې قصداً ملکيان هدف ګرځولي دي

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سياسي استازولۍ يا يوناما ويلي، وسله والو مخالفينو په روژې مياشت کې قصداً ملکي وګړي د خپلو بريدونو هدف ګرځولي دي.

يوناما په خپل تازه راپور کې ويلي، چې د روژې مياشتې په اوږدو کې يوازې په کابل کې سلو ملکيانو ته مرګ ژوبله اوښتې، چې زياته برخه يې د چاودنو له امله وه.

په افغانستان کې د يوناما مشر تاداميچي ياماموتو ويلي: «په نړيوالو قوانينو کې د جګړې ټول ښکېل اړخونه پر ملکيانو له بريدونو څخه منعه شوي دي او د ملکيانو په نښه کول جنګي جرم دی او کېدای شي د بشر ضد جنايت وبلل شي. د جګړې ښکېل اړخونه پر ملکيانو د بريدونو لپاره هېڅ توجيه نه لري، پر ملکيانو بايد هېڅ کله بريد ونه شي». نوموړي همدارنګه ويلي چې پر ملکي وګړو د وسله والو مخالفينو د بريدونو دوام به د هغوی د مشروعيت د سلب کېدو لامل شي او تر سره کوونکي به يې د افغانانو له هر ډول استازولۍ څخه محروم شي.



يوناما په خپل راپور کې په روژې مياشت کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو پر خپلواک کمېسيون، پر کاونټر پارټ موسسې، پر مولوي سميع الله ريحان او پر محصلينو بريدونو ته د نمونې په ډول اشاره کړې، چې قصداً تر سره شوي دي.

يوناما که څه هم په ښکاره ډول د کومې وسله والې ډلې نوم نه دی ياد کړی، خو طالبانو بيا ويلي، هغه بريدونه چې دوی يې مسووليت نه وي اخيستی په دوی پورې اړه نه لري.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې مخکې په افغانستان د ملکي وګړو د خونديتوب او عدالت غوښتنې ګروپ «CPAG» هم په خپل راپور کې ويلي وو، چې په تېره مې مياشت کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله دوه برابره زياته وه. په دغه راپور کې ويل شوي وو چې په مې مياشت کې د تاوتريخوالي په پېښو کې ۱۸۹ ملکيان وژل شوي او ۲۰۸ نور ټپيان شوي دي.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹,۵۵ |
| € | ۸۹,٦۰ |
| Rp. | ۵۳۷ |
| ₹ | ۱۱۳۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۰ |
| £ | ۱۰۰,۳۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |
| **Kam Air** | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| **flydubai** | |
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړني شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**ايډيټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** اپمل خان، نذير احمد سهار
او شفيق همدرد
**خبرياڼان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily








سه شنبه د ۱۳۹۸ د غبرگولي ۲۱مه | د ۲۰۱۹ د جون ۱۱مه | دریيم کال | ۳۸۵يمه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۶ | ۲۸ | ۳۸ | ۳۰ | ۳۷ | ۳۱ |
| ۸ | ۱٤ | ۱۷ | ۱٦ | ۲۱ | ۱٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۹ | لمر ختل ۰٤:٤۰ | ماسپښین ۱۱:۵۳ | مازیگر ۰۳:٤۰ | ماښام ۰۷:۰۹ | ماخوستن ۰۸:۵۱

## نړۍ



# د جرمني د بهرنیو چارو وزیر له ایران سره د اتومي هوکړې پر وروستیو کړکیچونو خبرې کړې دي

۲

## په قزاقستان کې د روانو لاریونونو پر مهال تر دې دمه له ۵۰۰ زیات کسان نیول شوي دي



په قزاقستان کې د پولیسو او لاریونوالو ترمنځ په نښته کې له ۵۰۰ زیات لاریون کوونکي نیول شوي دي.

لاریون کوونکي وایي چې اساسي حقونه یې تر پښو لاندې شوي او د ټاکنو د هغې پروسې پر ضد دریدلي، چې پایله یې مخکې له مخکې پلان شوې وه.

یوه لاریون کوونکي د نوم نه ښودو په شرط رسنیو ته ویلي: «موږ له دولته د اساسي قانون په رڼا کې د خپلو هغو اساسي حقونو غوښتنه کوو، چې د قزاقستان د اساسي قانون له مخې، دولت یې د تامین لپاره مکلف گرځول شوی».

بلخوا د قزاقستان د کورنیو چارو وزارت ویلي چې دغو کسانو له اجازې پرته لاریون کړی دی. د دغه وزارت مرستیال مرات قاژییف ویلي چې په الماتا او نور سلطان ښارونو کې یې له ۵۰۰ زیات لاریونوال نیولي دي.

نوموړي ویلي: «شاوخوا ۵۰۰ کسان په نور سلطان او الماتا ښارونو کې د ناقانونه لاریونونو په خاطر د پولیسو له خوا نیول شوي دي».


د موقت ولسمشر قاسم جومارت تکایف پر وړاندې د حکومت لهخوا په دغو کنټرول شویو ټاکنو کې شپږ تنه کاندیدان ولاړ وو، چې ډېر مشهور نه وو.

د قزاقستان د ټاکنو کمېسیون ویلي، نږدې ۱۲ میلیونو کسانو رایه ورکړې چې دا د ثبت شویو کسانو ۷۷ سلنه جوړوي.

موقت ولسمشر جومارت تکایف چې پر خپله بریا ډاډمن و، له رای اچونې وروسته ویلي چې لاریون کوونکي او پولیس باید ارامه و اوسي او دی به د لانجې د هوارې لپاره یوه کمېټه جوړه کړي.

جومارت تکایف همدارنگه ویلي چې له پخواني ولسمشر نور سلطان نظربایف نه به په ستراتېژیکو چارو کې مشوره اخلي.

## ملگري ملتونه: که په مدیترانې سمندرگي کې ژغورونکې بېړۍ ډېرې نه شي، بشري ناورین به رامنځته شي



د کډوالۍ په چارو کې د ملگرو ملتونو عالي کمیسارۍ خبرداری ورکړی، که له شمالي افریقا څخه د تلونکو کډوالو د ژغورنې لپاره په مدیترانې سمندرگي کې د ژغورونکو بېړیو شمېر ډېر نه شي، ښایي بشري ناورین رامنځته شي.

د دغې کمیسارۍ ویاند کارلوتاسامي ویلي: «که موږ په مدیترانې سمندر کې مداخله ونه کړو او هلته د ژغورونکو ډلو او بېړیو شمېر ډېر نه شي، بشري ناورین به رامنځته شي».

نوموړي ویلي، اوسمهال د جگړو او سیلابونو له کبله هره ورځ د لیبیا په زرگونو اوسېدونکي په کوچنیو بېړیو کې له دغه هېواده د تېښتې په حال کې دي، چې په اوبو کې د ډوبېدو له جدي گواښ سره مخ دي.

نوموړي دغه راز زیاته کړې، چې د روان زېږدیز کال له پیله تر دې مهاله په مدیترانې سمندرگي کې اروپا ته تلونکي ۳۵۰ کډوال په اوبو کې ډوب شوي او خپل ژوند یې له لاسه ورکړی دی. نوموړي ویلي: «موږ په دې وروستیو کې په مدیترانې سمندرگي کې د کډوالو د لویو جوپو شاهد یو، دوی په دغه لاره له تلونکو خطرونو نه دي خبر او قاچاقبران یې د ژوند په اړه تصمیم نیسي».

هغه دغه راز زیاته کړې چې په دې وروستیو کې له شمالي افریقا څخه د کډوالو په تلونکو بېړیو کې د کډوالو شمېر دوه برابره زیات شوی، چې ډېری وخت په اوبو کې ډوبېږي.

## کاندیدان: عزل و نصب‌های مقامات بلندپایه مدیریت انتخابات به نفع تیم حاکم است



شورای نامزدان انتخابات ریاست جمهوری، به کمیشنران کمیسیون مستقل انتخابات هشدار می دهد تا کارکرد شان را مطابق قانون انتخابات انجام دهند؛ در غیر آن سلب صلاحیت خواهند شد.

شورای نامزادان انتخابات ریاست جمهوری، متشکل از ۱۲ نامزد انتخابات آینده ریاست جمهوری می باشد.

در خبرنامه این شورا آمده است که کمیسیون مستقل انتخابات، باید مطابق قانون انتخابات عمل نماید؛ در غیر آن نامزدان ریاست جمهوری آنها را سلب اعتماد خواهد نمود.

این درحالي‌است که اعضای جدید کمیسیون‌های یادشده، پس از آن از سوی نامزدان انتخابات ریاست جمهوری برگزیده شدند که رئیس جمهور غنی در ۲۳ دلو سال گذشته، بعد از تعدیل قانون انتخابات، تمامی اعضای کمیسیون‌های انتخاباتی را از وظایف شان سبکدوش کرد.

در مطابقت به قانون فوق، صلاحیت انتخاب ۱۲ عضو و رؤسای دارالانشای کمیسیون‌های انتخاباتی را نامزدان انتخابات ریاست جمهوری برعهده دارند.


در خبرنامه این شورا خاطرنشان گردیده که سران حکومت وحدت ملی، بعد از ماه جدی سال ۱۳۹۷ به حیث کاندیدای ریاست جمهوری ثبت نام نموده اند، فلهذا تمام عزل و نصب‌های مقامات بلندپایه دولتی غیر قانونی پنداشته می‌شود.

خبرنامه افزوده است که کاندیدان ریاست جمهوری، همه عزل و نصب‌های مقامات بلندپایه را زمینه سازی به خاطر مدیریت انتخابات به نفع تیم حاکم می‌دانند.

منبع با بیان اینکه شورای نامزدان انتخابات ریاست جمهوری، طرح سیاسی را به حکومت وحدت ملی ارایه کرده بود؛ اما تا هنوز به این طرح توجه صورت نگرفته، افزوده است: «هرگاه سران حکومت وحدت ملی در مقابل رقبای انتخاباتی و ملت غیور افغانستان، به امورات غیر قانونی و بی اعتنایی شان ادامه دهند، شورای نامزادان انتخابات ریاست جمهوری، از تمام گزینه‌ها در چارچوب قانون بر خلاف حکومت وحدت ملی استفاده خواهند کرد».

## ژوند

### هیلې مو روانې وساتئ!



اسمان، ځمکه او کاینات، موږ د هغه څه په اړه چې فکر یې کوو او د ځان لپاره یې لازم بولو، کش کاږي، دا هم یوازې د سترگو په رپ کې، له دې څخه نه کم او نه هم په زیات وخت کې. دا هر څه په یوه بې ساري ډول ترسره کېږي، داسې چې هېڅ تمه به مو یې نه وي کړې. ښه خبره دا ده چې موږ له کایناتو سره خپله اړیکه پرې نه کړو او د سیند په څېر یې روانه وساتو او هېڅکله مو د دغه سیند مخه کوم څه ډپ نه کړي. تل هڅه وکړئ، وغواړئ او امر وکړئ. کله چې زموږ غوښتنې مثبتې وي، مثبته انرژي مو هم د وینې په څېر په رگونو کې په روانېدو پیل کوي او که کله له کوم کار څخه نا هیلي شو، نو پر مثبته انرژۍ مو وچکالي راځي او ځای یې منفي انرژي نیسي. اړینه نه ده چې چینه دې تل له اوبو ډکه وي، مهمه دا ده چې روانه وي، هغه که هر څومره کمې اوبه هم وي، خو چې جریان یې قطعه نه شي.

### د مالگې گټې او زیانونه



په عام ډول مالگه د وینې د فشار لوړېدو لامل گڼل کېږي، خو اوس طب پوهانو د مالگې د ډېر استعمال یو بل تاوان هم څرگند کړی دی؛ د چین جنان پوهنتون یوې څېړنې ښودلې چې د مالگې ډېر استعمال د فشار پر لوړولو سربېره، د ډېر عمر لرونکو کسانو ینې ته هم ډېر تاوان رسوي. څېړونکي وایي چې د انسان بدن ته د لږې مالگې اړتیا وي او د امریکا حکومت له همدې کبله روغو کسانو ته په ورځ کې د چای د یوې کاشوغې په اندازه د مالگې خوړلو وړاندیز کوي.

په مالگه کې موجود «سوډیم» پر نورو چارو سربېره، په بدن کې د شته اوبو جریان په برابرولو او عصبي نظام منظمولو کې مرسته کوي. خو د مالگې ډېر استعمال بیا جانبي عوارض هم لري او د فشار پر لوړولو سربېره، ینې ته هم تاوان رسوي.